# د محبس په ماتولو کې د چارواکو جوړجاړی

Khan Mohammad Danishju :**Author**

د کندهار له محبس څخه د تونل له لارې د سلګونو بندیانو د تېښتې پرمهال هیچا هم خبرداری ورنه کړ.

په افغانستان کې د آی ډبلیو پي آر د خبریال، خان محمد دانشجو لیکنه

چارواکی او شنونکي په افغانستان کې وایي د هېواد په سویل کې د کندهار له محبس څخه د څه دپاسه پنځو سوو بندیانو ډله ییزه تېښته به د چارواکو له جوړ جاړي پرته ناشونې وه.

طالبانو وویل د غورځنګ ۱۰۶ تنه قوماندانان د نورو ۵۴۱ تنو بندیانو په ډلې کې وو، چې د اپریل په ۲۵ د ۳۶۰ متره تونل په کیندلو له محبسه وتښتیدل.

له پېښې وروسته د محبس مدیر، غلام دستګیر، د محبس مرستیال او یو شمېر نور کارکوونکي تر پوښتنو ګرویږنولاندې ونیول شول. د امنیتي سکتور د شاوخوا شلو ولایتي کارکوونکو دندې وځنډول شوې یا له کاره ګوښه شول.

د افغانستان د ملي امنیت د ریاست مرستیال، حسام الدین وویل، اتلس تښتېدلي بندیان بېرته نیولو شوي دي او وېي ویل چې دمګړ تردې زیات معلومات په لاس کې نشته.

حسام الدین د هغه یو لړ چارواکو په ډله کې و، چې د افغانستان مشرانو جرګې احضار کړي وو.

د عدلیې وزیر حبیب الله غالب، چې د جزایي سیستم ټول مسؤولیت یې پر غاړه دی، وویل، د تېښتې څرنګوالی د یو شمېر کارکوونکو جوړ جاړي ته ګوته نیسي.

هغه وویل: «د تونل له لارې له محبس څخه ډله ییزه تېښته ددې څرګندونه کوي چې د محبس له منځ څخه ورسره مرسته شوې وي. که د (محبس) له دننه مرسته نه وای شوی، نو طالبانو څنګه کولای شول، هرې کوټې ته لاړ شي، دروازې بېرته کړي، شپلاقونه ووهي، دا ټول په پټه ترسره شي او هیڅوک پوه نشي چې څه خبره ده؟»

د [عدلیې] وزارت د محبسونو رئیس ،جنرال امیر محمد جمشیدي دا ومنله چې د کندهار د محبس یو شمېر کارکوونکو به هرو مرو له [محبس څخه] په تېښته کې مرسته کړې وي. خو هغه خپل نظر وړاندې کړ، [او وېې ویل] ښایي بندیان د تونل پر ځای له عمومي دروازې څخه تښتیدلي وي، چې د هغه په وینا [د تونل لارې تیښته] د زیات شمېر لپاره ناشونې خبره وه.

سیاسي شنونکي داد نوراني وویل چې بندیان د کندهار له محبس څخه په ۱۹۸۰ کلونو کې د شورویانو د اشغال د پېر په څېر د تونل د کیندلو په واسطه له محبس څخه تښتیدلي دي.

هغه دا ومنله چې ساتونکو باید په یوې لارې نه په یوې لارې مرسته کړې وي. که نه، نو داسې تیښته شونې نه وه، آن که د کیندلو کار ډېر پټ هم ترسره شوی وای.

په یوې تیلفونی مرکې کې طالب ویاند، ذبیح الله مجاهد په تېښته کې د ساتونکو لاس لرل رد کړل، وېې ویل، هغوی ددې لپاره په ډب کې تللي ترڅو حکومت په خپل شرم پرده واچوي.

هغه وویل: «هغه مهال چې طالبان یوه ستره بریا تر لاسه کړي، نو حکومت یو څو تنه بېګناه افراد بند ته اچوي، له طالبانو سره د همکار تاپه پرې لګوي او په دې توګه پر خپلې ماتې پرده غوړوي.»

طالبان وایي هغوی [له محبس څخه] تیښته په پوره پام پلان کړې وه، له محبس سره نژدې یو کور یې د یوې جعلي ساختمانی شرکت په نامه په کرایه اخیستی و.

دا لومړن ډله ییزه تیښته نه وه، چې یاغیانو په کندهار کې پلان کړې وه. په ۲۰۰۸ کال کې هغوی د چاودیدونکو توکو د یو ډک موټر په واسطه د محبس پر عمومي دروازې بریدوکړ. هغوی ادعا وکړه چې ټول ۱۵۰۰ تنه بندیان یې خوشې کړل، خو چارواکو د ۹۰۰ تنو د تېښتې پخلی وکړ.

له وروست تېښتې یوه ورځ وروسته د کندهار چارواکو اعلان وکړ چې اویا تنه تښتېدلي بندیان یې بېرته نیولي دي. هغوی شل تنه په ښار کې وګرځول. یو شمېر یې خبریالانو ته وویل، پر هغوی د وسله والو طالبانو له خوا زور راوړل شوی و، چې په تېښته کې له طالبانو سره ملګري شي.

طالبان ټینګار کوي هیڅوک په زوره تېښتې ته نه دی اړایستل شوی او که شوی هم وي، بېرته نیول شوی نه دی.

په پارلمان کې د کندهار ولایت استازې، شکیبا هاشمي وویل، له افغان حکومت څخه عمومی نارضایت له دې پېښې سره مرسته کړې ده.

هغې وویل: «حکومتي چارواکي د واسطې له لارې پر کارونو ګومارل شوي دي. بې تجربه فاسد افرادو ته حکومتي لوړې څوک ورکړای شوي، په داسې حال کې چې تجربه لرونکی کارپوه خلک بې روزګاره پاتې دي. خلکو پر حکومت خپل باور له لاسه ورکړی او د واک په ګډ د دې افرادو له شتون څخه پوزې ته راغلي دي. دا کار له طالبانو سره د خلکو د همکار لامل شوی دی.»

هاشمي وویل، په کندهار کې د محبس د ماتولو اوازې د پیښې له رامنځته کېدو دمخه پیل شوې وې.

ځایي استوګن تواب اخونزاده ددې اوازو د اورېدو پخلی وکړ.

هغه وويل: «خلکو ویل طالبان غواړي وتښتي. چارواکي دومره بېوسې او بې بروا وو، چې ویې نه شواى کړاى د خلکو له خبرو څه نتیجه ترلاسه کړي.»

د ساتونکو د چال چلن په اړه هم پوښتنې راولاړې شوې، له محبس څخه ډله ییزې تېښتې په دې او د افغانستان په نورو محبسونو کې د عصري تجهیزاتو د نشتوالي خبره څرګند ه کړه.

لکه هغسې چې د ملي امنیت د عمومي ریاست مرستیال، حسام الدین وویل: «د افغانستان په ټولو محبسونو کې امنیت ښه نه دی. کېداى شي د کندهار په څېر پېښه په نورو محبسونو کې هم رامنځته شي.»

**Location:** Pakistan
افغانستان

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%AF-%D9%85%D8%AD%D8%A8%D8%B3-%D9%BE%D9%87-%D9%85%D8%A7%D8%AA%D9%88%D9%84%D9%88-%DA%A9%DB%90-%D8%AF-%DA%86%D8%A7%D8%B1%D9%88%D8%A7%DA%A9%D9%88-%D8%AC%D9%88%DA%93%D8%AC%D8%A7%DA%93%DB%8C